# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**14دلو _سال 1402**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب


عنوان صفحه

په اسلام، هېواد او ملي ارزښتونو له هيچا سره معامله نه کوو او نه بل چاته ددې اجازه ورکوو----------------------1

۱۰۰ خانواده در ولایت لغمان ، کمک شد -------------------------------------------------------------------2

د فرضي پولو له لارې؛ له پاکستان څخه په جبري توګه سلګونه کورنی راستنې شوې --------------------------------2

ششمین جلسه کمیته ادغام مجدد در ولایت جوزجان دایر گردید-----------------------------------------------------3

د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ مسولانو د تورخم له سرحدي آمریت څخه لیدنه وکړه --------------------------------3

بیش از ۲۰۰ تن مهاجر ازپاکستان طور اجباری به وطن برگشت نمود ----------------------------------------------5

د اروپا د عدالت محکمه: ښځې کولی شي چې د جنسیت پر اساس د تاوتریخوالي له امله حفاظت ترلاسه کړي ---------5

فرانسه کې درې کسان د جعلي اسنادو جوړولو په تور نیول شوي -------------------------------------------------7

نخست وزیر زاکسن: برای تغییر سیاست پناهندگی، باید از قانون اساسی شروع کنیم --------------------------------8

# متن کامل اخبار

**په اسلام، هېواد او ملي ارزښتونو له هیچا سره معامله نه کوو او نه بل چاته ددې اجازه ورکوو**

د وزارت ویب سایت




**د مهاجرینو او رستنېدونکو چارو سرپرست الحاج خلیل الرحمان حقاني، د خوست ولایت مرکز اړوند، متا چیني، نور القرآن مدرسې فراغت غونډه کې وویل، په اسلام، هېواد او ملي ارزښتونو به له هیچا سره معامله ونکړي او نه به بل چاته ددې اجازه ورکړي**

**نوموړي زیاته کړه، د علم دستار د دولت، منصب او شهرت لپاره نه، بلکې د راتلونکي نسل پروړاندې یو لوی مسولیت دی او علما باید دا مسولیت په ښه توګه ترسره کړي**

**ښاغلي حقاني د علماو او قومونو ترمنځ په یووالي هم ټینګار وکړ او له علماو یې وغوښتل، چې د اسلام او نظام د ساتنې لپاره په مدرسو کې د نورو دیني زدکړو ترڅنګ جهادي فکر او نظامي زدکړې هم تدریس کړي**

**په غونډه کې د مهاجرینو چارو وزیر راستنو شویو مهاجرینو لپاره هم له ولسونو وغوښتل، چې د بسترو، سون توکو او**

**خوارکي موادو په برخه کې ددوی لاسنیوی وکړي**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

## ۱۰۰ خانواده در ولایت لغمان ، کمک شد

ویب سایت وزارت



**برای ۱۰۰ خانواده برگشت کننده اجباری ازپاکستان در ولایت لغمان، کمک های خوراکی و غیر خوراکی بتاریخ ۱۲ دلو توزیع شد.**

**خانواده های مذکور قبلاً در ولسوالی علیشنگ آن ولایت شناسایی شده بودند**

**کمک یاد شده مبلغ ۷ هزار افغانی پول نقد، ۴ قلم مواد خوراکی و بسته های صحی و البسه ازطرف موسسه سرف بود که در آن ولایت توزیع گردید.**

## د فرضي پولو له لارې؛ له پاکستان څخه په جبري توګه سلګونه کورنی راستنې شوې

د وزارت ویب سایت

**د راستنېدونکو ستونزو ته د رسېدنې عالي کمیسیون دګومارل شویو کمیټو د راپور له مخې، د ننګرهار، کندهار، نیمروز، کابل، هرات او پکتیکا ولایتونو له پولو څخه ۱۴۶ کورنۍ، چې ۴۱۴ تنه کېږي د سلواغې پر ۱۱ مه نېټه په جبري ډول له پاکستان څخه راستنې شوې، چې په بایومتریک ډول ثبت او ورسره مرسته وشوه.**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

۱۷کورنۍ، چې ۷۱ تنه کيږي خپلو مېنو ته وليږدول شوې او کرايه ورکړل شوه، ۹۰ کورنيو سره نغدي مرسته وشوه، ۱۴۳کورنۍ په لنډمهاله کمپونو کې ځای پر ځای شوې، د يو زرو ۲ تنو درملنه وشوه، ۲۷۰سيمکارتونه، چمتو شوې خوراکي کڅوړې، د ښځاک اوبه، ژمنی جامې د يادو ولايتونو په سرحدونو کې د مسؤلينو لخوا پرې وويشل شوې.

دغه راز د اطلاعاتو کمېټو او امر بالمعروف او نهی عن المنکر محتسبينو له خوا راستنو شويوکورنيو ته د نوم ليکنې، لېږد، مالي مرستو، لنډ مهاله استوګنې او د هېواد د پېژندنې، اسلامي نظام، مهاجرت، صبر او زغم، ښوونې او روزنې په اړه ګټور معلومات وړاندې کړل.

لسګونه هغه کسان چې مسلکي او حرفوي اسناد يې درلودل، وپېژندل شول او راستنېدونکو ماشومانو ته له چاوديدونکو توکو څخه د ساتنې، پاکوالي، او عامه پوهاوي په اړه معلومات ورکړل شول او د رواني روغتيا په موخه د لوبو او تفريح پروګرامونه هم ورته برابر شول.

## ششمين جلسه کميته ادغام مجدد در ولايت جوزجان داير گرديد

ويب سايت وزارت



ششمين جلسه کميته ادغام مجدد ولايتی در ولايت جوزجان تحت رياست والی و با اشتراک نماينده های ادارات ذيربط حکومتی و موسسات به تاريخ 11 دلو برگزارشد.

ملا امان الله طلحه رئيس امورمهاجرين وعودت‌کننده‌گان ارقام عودت کنندگان را که ثبت سيستم رياست مهاجرين شده است برای اشتراک کنندگان بيان نموده و از کمک و همکاری مؤسسات به صد ها خانواده سپاس گذاری نمود.

قاری گل حيدر شفق والی جوزجان از هماهنگی و همکاری رياست مهاجرين و مؤسسات همکار در قسمت رسيدگی به فاميل های متضرر که جبرا اخراج گرديده اند سپاس گزاری نموده خواهان کمک بيشتر شد.

## د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ مسولانو د تورخم له سرحدي آمريت څخه ليدنه وکړه

د وزارت ويب سايت



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*




**د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ د جینوا دفتر مسولانو د سلواغې ۱۱ مه نیټه د مهاجرینو د تورخم سرحدي آمریت څخه لیدنه وکړه.**

**په دې لیدنه کې مسولانو هر یو شیرین فکفار، ویکتوریا توماس، الفت کاظمي، مشتاق، اکسیر او اراک د آمریت ورځنۍ چارې ولیدې، د مهاجرینو لپاره یې د نړیوالو بنسټونو د خدمتونو په وړاندې کولو کې د دوی د همغږۍ او مدیریت ستاینه وکړه.**

**د تورخم سرحدي آمریت مسولانو د پېژندنې، نوملیکنې، خدمتونو او په بېلابېلو برخو کې د فعالو موسسو د خدمتونو په اړه معلومات وړاندې کړل.**

**د کمېشنرۍ مسولانو وویل: موږ د اسلامي امارت او مهاجرینو وزارت په همکارۍ  په تورخم کې د خپلو مرستو پر پراختیا کار کوو.**

**د روان کال په بهیر کې د دې لپاره، چې د هرې راستنېدونکې کورنۍ پوره ملاتړ وشي او لومړنۍ اړتیاوې یې پوره شي په کمساري ډول مو د کورنیو ملاتړ زیات کړ.**

**موږ به تورخم کې د موقتي او دایمي کمپونو ملاتړ ته دوام ورکو؛ خوښ یو چې د نوملیکنې پراوونه ګورو، هره کورنۍ په ښه ډول پېژندل کېږي. د نوملیکنې سرعت او دقت د تورخم د آمریت د کارمندانو د مسلکیتوب ښودنه کوي.**

**هغو زیاته کړه، چې د جبري راستنېدونکو مدیریت او کنترول د نړیوالو لپاره یوه بېلګه وه او موږ**

**داډه یو، چې په تورخم کې به زموږ مرستې ستاسو د ملاتړ لپاره په لوړه کچه ولګول شي.**

د تورخم سرحدي آمریت مسوولانو د کمېشنرۍ له ملاتړ او همکارۍ څخه مننه څرګنده کړه.

## بیش از ۲۰۰ تن مهاجر ازپاکستان طور اجباری به وطن برگشت نمود

ویب سایت وزارت

**۲۱۲ تن مهاجر افغان به تاریخ ۱۱ دلو از مرز های تورخم و سپین بولدک به کشور برگشت نموده اند.**

**به اساس معلومات آمریت سرحدی سپین بولدک ولایت قندهار ۲۰ خانواده شامل ۱۱۵ تن طور جبری از مرز یاد شده عودت نمودند، و پس ازثبت اداره مهاجرین جهت کمک به دفاتر کمیشنری عالی سازمان ملل متحد، سازمان جهانی خوراک و سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شدند.**

**برای هر خانواده مبلغ ۱۰ هزار افغانی از جانب کمیته موظف نیز توزیع شد.**

**به اساس معلومات آمریت سرحدی تورخم ولایت ننگرهار ۲۳ خانواده که شامل ۹۷ تن بودند، طور جبری از پاکستان برگشت نمودند و بعد از ثبت دراداره امور مهاجرین جهت کمک به دفاتر کمیشنری عالی ملل متحد و سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شدند.**

•

## د اروپا د عدالت محکمه: ښځې کولی شي چې د جنسیت پر اساس د تاوتریخوالي له امله حفاظت ترلاسه کړي

مهاجرنیوز



د اروپا د عدالت محکمې د جنورۍ په شپږلسمه وویل هغه مېرمنې چې د خپل جنسیت پر اساس له تاوتریخوالي سره مخامخ دي کولی شي په اروپايي ټولنه کې حفاظت ترلاسه کړي. د محکمې د حکم له مخې د جنسیت پر اساس تاوتریخوالی د تعقیب او ځورونې مصداق بلل کېږي.

د اروپا د عدالت محکمې د چهارشنبې په ورځ د جنورۍ په ۱۶مه پرېکړه وکړه چې د جنسیت پر بنسټ له مېرمنو سره تاوتریخوالی د تعقیب او ځورونې یوه بڼه ده او د تاوتریخوالي قربانیانې کولی شي چې په اروپايي ټولنه کې د پناه غوښتنه وکړي.

د تبعید شویو مېرمنو او کډوالو شبکې، د همجنس خوښوونکو د کډوالۍ او اقامت د حقونو د پېژندلو ټولنې، د پریمو لېوي مرکز او د هرکلي او ملاتړ ګروپ یا ګاس د فبرورۍ په لومړۍ نېټه د یوې اعلامیې په خپرولو سره دا تصمیم د پناه غوښتونکو مېرمنو لپاره یو «مهم پرمختګ» بللی دی

دا پرېکړه د یوې کردۍ مېرمنې په قضیه کې شوې ده. نوموړې چې د ترکیې او مسلمانه ده او طلاق یې اخیستی دی ویلي دي چې جبري واده کولو ته اړ شوې او د خپل خاوند له خوا وهل او ګواښل شوې ده. دغه ښځه د ۲۰۱۸ په جون میاشت کې په قانوني توګه بلغاریا ته رسېدلې او ورپسې آلمان ته تللې وه. وروسته له هغه چې آلماني چارواکي په ۲۰۱۹ کې وویل د بلغاریا حکومت د دغه کس د دوسیې د ارزولو صلاحیت لري، د بلغاریا یو قاضي د دې قضیې په تړاو د اروپايي ټولنې د عدالت محکمې د نظر غوښتونکی شو.

دا هم ولولئ
ځېرنه: افغانستان د ښځو له پاره تر ټولو بد هېواد دی

له یوې ټولنیزې ډلې سره تړاو

د یادې محکمې قاضیانو له ښځو سره د تاوتریخوالي په خلاف د مبارزې دوو نړیوالو کنوانسیونونو ته اشاره کړې چې سېډېف (له مېرمنو سره د تبعیض د ټولو اشکالو د له منځه وړلو کنوانسیون) او د استانبول کنوانسیون نومېږي. محکمې ویلي دي چې اروپايي متون باید د دغو کنوانسیونونو په رڼا کې تفسیر شي.

د استانبول د کنوانسیون له مخې د جنسیت پر اساس له ښځو سره تاوتریخوالی د تعقیب مصداق دی او تاوتریخوالي قربانیانې کولی شي چې حفاظت ترلاسه کړي.

د عدالت محکمې په خبره د جنېوا په کنوانسیون کې هم تصریح شوې ده چې ښځې په ټولیزه توګه له یوې ټولنیزې ډلې سره تړاو لري او کولی شي چې د خپل جنسیت له امله د تعقیب (فزیکي او روحي تاوتریخوالی) په صورت کې قبولي ترلاسه کړي.

له دې وړاندې په فرانسه کې له پناه غوښتونکو ښځو څخه غوښتل کېدل چې ثابته کړي چې له هغو ټولنیزو ډلو سره تړاو لري چې د قضايي ارګانونو له خوا په رسمیت پېژندل شوې دي، لکه د قاچاق او غلامۍ قربانیان، د ختنه کېدو له خطر سره مخامخ نجونې، او یا هغه کسان چې د خپلو جنسي تمایلاتو له امله تر تر تعقیب لاندې دي.

دا هم ولولئ
د ملګرو ملتونو کارپوهان وايي افغان مېرمنو ته باید له قید او شرط پرته پناه ورکړل شي

## فرانسه کې درې کسان د جعلي اسنادو جوړولو په تور نیول شوي

مهاجرنیوز




**فرانسوي چارواکي وايي د جعلي اسنادو د جوړولو په تور يې يو فرانسوی او دوه الجزايريان نيولي دي .ويل کيږي چې دغو کسانو له دې درکه له ۲۰۰ زرو څخه تر ۴۸۰ زرو يورو ګټه ترلاسه کړې ده .**

**فرانسوي چارواکي وايي د دوشنبې په ورځ د جنورئ په ۲۹مه يې يو فرانسوی او دوه الجزايريان د جعلي سندونو جوړولو ډله کې د غړيتوب په تور زندان ته اچولي دي. يادې ډلې د فرانسې په ۲۰ ديپارتمنتونو کې فعاليت درلود.**

**د کډوالو د قاچاق سره د مبارزې ادارې يا اولتيم ويلي دي، دغه درې کسان چې يوه اونۍ مخکې مارسی، ګرنوبل او روسني سو بوا ښارونو کې نيول شوي په دې تورن دي چې د جعلي اسنادو په جوړولو کې يې لاس درلود. د نيول شويو کسانو په اړه تحقيقات نهه مياشتې مخکې پيل شوي وو.**

**يادې شبکې د زيږېدنې جعلي اسناد جوړول او د کوچنيو ښارونو د احوالو د ثبت له ادارو سره د ملاقات وخت د خيستلو او د «ګټورو مشورو» په بدل کې له ۱۷۰۰ يورو څخه تر ۸۰۰۰ يورو پيسې ترلاسه کولې.**

**د التيم چارواکو ويلي دي چې په ټوله فرانسه کې يې د جعلکارئ ۷۵ پېښې ثبت کړې دي. دغه اداره ګومان کوي چې د شبکې غړو له دې درکه له ۲۰۰ زرو څخه تر ۴۸۰ زرو يورو ګټه ترلاسه کړې ده.**

**دا هم ولولئ**

**<u>د اداري پروسيجرونو انلاين کېدل: په تور بازار کې د پيسو په بدل کې د ملاقات وخت اخيستل کيږي</u>**

**نورې پېښې**

د یادولو ده چې د ۲۰۲۳ په جون میاشت کې هم د فرانسې په سوېل ختیځ کې د ازبر د پولیسو قومندانۍ یو کارکوونکی او ینځه شریکان یې د اوسېدو کارتونو د ورکولو په تور زندان ته استول شوي و. د لیون څارنوالی په وینا دغه کاروونکي چې د بهرنیانو څانګه کې یې کار کاوه د اوسېدو کارتونو په جوړولو کې یې لاس درلود. څارنوالی ویلي وو، نوموړي له ۲۰۲۰ راهیسې شاوخوا ۲۵۰ د اوسېدو کارتونه چاپ کړي چې ډېری دغه اسناد الجزایري او تونسي کډوالو ته ورکړل شوي وو.

په همدغه میاشت کې د فرانسې په ایل دو فرانس سیمه کې هم د جعلي سندونو د جوړولو په تور اته کسان نیول شوي وو چې په ډله کې یې یوه ښځه او د پولیسو د قومندانی دوه کارکوونکي هم وو.

دغو کسانو به د جعلي اسنادو د مکملې بستې په بدل کې له هر مهاجر څخه تر ۱۵۰۰۰ یورۍ پورې پیسې ترلاسه کولې. په یاده بسته کې پاسپورټ، پېژندپاڼه، د موټر چلولو جواز، د معاش او د مالیې د ورکولو اسناد، طبي نسخې او کاري تړون شامل وو.

## نخست وزیر زاکسن: برای تغییر سیاست پناهندگی، باید از قانون اساسی شروع کنیم

مهاجرنیوز



میشائل کریچمر، نخست وزیر ایالت زاکسن پیشنهاد کرد که مقرره های مربوط به حق پناهندگی در قانون اساسی تغییر کند و کمک های دولتی برای پناهجویان نیز برهمین اساس دوباره تعریف شوند .

کریچمر روز جمعه در برنامه «مجله صبحگاهی» که از کانال یک تلویزیون عامه آلمان نشر می شود، گفت: «برای روشن شدن اساسی این موضوع، به تغییر در قانون اساسی و اقدامات دیگر نیاز داریم .«به گفته او رویکرد کنونی در قابل



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook**: *https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

مهاجرت بر پایه «اقدامات موردی» بوده است. به عبارت دیگر حکومت فدرال هربار در برابر یک پدیده و یا یک تحول که در ارتباط با مهاجران رخ داده است، با وضع قوانین واکنش نشان داده است.

در همین زمینه
<u>»ایالات آلمان قانون افزایش و تسریع اخراج پناهجویان ردشده را اجرا کنند«</u>

کریچمر که همزمان معاون رئیس حزب «سی دی یو» است، در ادامه گفت، مهاجرت یک «موضوع مرکزی» است که در حال حاضر «ناکامی یا موفقیت در سیاست» به آن گره خورده است. او افزود، منظور او از لزوم تغییر در قانون اساسی این است که «کمک های دولتی احتمالا باید به صورت بنیادین دوباره تعریف شوند». با تغییرات دیگر باید از این اطمینان حاصل شود که «نهادهای دولتی بتوانند رویکرد متفاوتی را در پیش بگیرند.«

این سیاستمدار حزب «سی دی یو» توصیه می کند که پروسه های پناهندگی در خارج از اتحادیه اروپا انجام شوند. به گفته او آلمان به کشورهای مبدا پناهجویان به عنوان شریک نیاز دارد تا بتواند در مورد معاهده های لازم برای بازگرداندن مهاجران رد شده با آن ها به توافق برسد.

ایالات آلمان فدرال روز چهارشنبه در زمینه توزیع کارت پرداخت در میان پناهجویان به توافق رسیدند. قرار است پناهجویان با این کارت ها که براساس استندردهای یکسان تولید می شوند، بخشی از کمک هایی را که مستحق اش هستند، به صورت غیرنقدی دریافت کنند.

در همین زمینه
<u>پارلمان آلمان قانون تسهیل اخراج را تصویب کرد</u>

کریچمر در ادامه گفت: «حکومت کنونی فدرال چشمانش را در برابر واقعیت ها می بندد، فقط در مورد این موضوع اینگونه نیست». به گفته او با توجه به این که شمار پناهجویان احتمالا تا اواسط سال افزایش می یابد، رفتار حکومت ائتلافی را می شود «تاخیرمجرمانه» به حساب آورد .او گفت که حداکثر حالا دیگر زمان آن فرارسیده که گفته شود: «باید در این بخش کاری انجام شود .«